یوسف انتظار

# د سلواغې ۲۶مه او پرافغانستان باندې د پخواني شوروي د یرغل پایلې

زموږ ګران هېواد داد سترو مدنیتونو او فرهنګونو د پالنې او روزنې زانګو د خپل حساس جیو ستراتیژیک او جیو پولیتیک موجودیت له امله د نړۍ د ډېرو سترو نیواکګرو او ښکیلاکګرو د تیریو او لښکرکښیو سره لاس په ګریوان پاتې شویدی .زموږ د هېواد زړورو او په خپلواکۍ مینو ولسونو د پردیو د یرغلونو او تیریو پروړاندې د خپل هېواد د ساتنې په لار کې ستر مادي،معنوي او ځاني زیانونه ګاللي، چې د هغو په پایله کې زموږ هېواد د نړۍ د پرمختګ او تمدن له کاروان څخه وروسته پاتې شویدی.د دویمې نړیوالې جګړې وروسته د دوو متضادو او متخاصمو سیستمونو یانې د نړیوالې پانګوالۍ سیستم او نړیوال سوسیالیستي سیستم ترمنځ سیالي چې د سړې جګړې په پېل سره د پوځي تړونونو په منځته راتلو سره یې نوې بڼه غوره کړه ددې سبب شوه چې د نړۍ دوه ستر زبر ځواکونه د خپل نفوذ او اغیز لپاره د نړۍ په ګوټ ګوټ کې خپلې هڅې ګړندۍ کړي. پخواني شوروي د خپل استعماري خصلت پربنسټ چې د نړۍ ۱/۳ برخه یې په مستقیم او غیرمستقیم ډول ترخپلې ولکې لاندې راوستې وه.او پرنړۍ باندې یې د بشپړ تسلط درلودلو اشتها ورځ تربلې مخ په زیاتیدو وه ،د غوایي د اوومې نیټې پوځي پاځون وروسته ،چې له امله یې په هېواد کې سیاسي نظم او ثبات ورځ تربلې مخ پرخرابیدو روان وو او د پخوانیو مجاهدینو پوځي بریاوې د جګړې په ډګر کې مخ پرزیاتیدو وې کوم چې په پاکستان او ایران کې یې سنګر نیولی او لویدیزې نړۍ او امریکا یې پوځي او مالي ملاتړ کاوه. نو پخواني شوروي له دې وېرې چې ددوی په ګاونډ کې د افغانستان سره په پوله د امریکا او لویدیزې نړۍ له لوري یې پروړاندې ګواښ رامنځته نه شي او افغانستان یې لا له وړاندې د خپلو سیاسي،اقتصادي او پوځي ګټو سیمه بلله او لدې لارې یې د هند سمندر ګرمو اوبو ته ځان رسول غوښتل ،نو پرهمدې بنسټ یې د ۱۳۵۸المریز کال د مرغومي پر ۶مه زموږ پر بې وزله هېواد باندې پوځي یرغل پیل کړ او د هغه مهال واکمن حفیظ اله امین یې لومړۍ مسموم او وروسته یې وواژه او پرځای یې ببرک کارمل د خپل پوځي ځواک د متې په زور د ټولو نړیوالو اصولوپرخلاف او د ملګرو ملتونو د منشور د اصل په نه رعایت پرافغان ولس ور وتپه او پدې توګه زموږ هېواد نیغ په نیغه د شوروي د پوځي یرغل په ترسره کیدو سره په بشپړه توګه د سره پوځ په ولکه کې پریوت.ببرک کارمل چې د پردیو د برچو په زور واک ته ورسید پخپل دغه کار سره یې له یوې خوا د افغانستان بې وزله خلک په لوی لاس ددښمن غیږې ته ورټېل وهل او د ثور د ۷مې نیټې بدلون ټولنیزه او سیاسي تکیه یې سخته کمزوري کړه او له بلې خوا یې د افغانستان مسله نړیواله وګرځوله ،چې د هغې په پایله کې زموږ هېواد د نړۍ د سترو زبرځواکونو د وزلوبې د سیالۍ په ډګر واوښت .په هېواد کې د روانې جګړې لمن

د هېواد ګوټ ګوټ ته وغځېده او لويديزې نړۍ او د امريکا متحده ايالاتونو د شوروي سره په مقابله کې افغان وسلوالو ډلوته پرمختللې وسلې ورکړې، جګړې خپله لمن لاپسې پراخه کړه د هېواد يو شمېر ولايتونه ،ولسوالۍ ځينې لرې پرتې سيمې د دولت وسلوالو مخالفينو په لاس کې پريوتې. د افغان وسلوالو ځواکونو تعرضي او دفاعي قابليت ورځ تربلې د کمزورتيا پرلور روان وو د جنګ جګړو په ډګرکې دواړو خواوته ځاني او مالي درانه زيانونه واوښتل،د شوروي په مشر تابه کې هم د افغانستان د مسلې پرسر لا له وړاندې موجود مخالفتونه نور هم مخ پرزياتيدو شول د جګړې په ډګر کې د زرګونو شوروي سرتيرو په وژلو سره د شوروي خلکو په اذهانو کې د دولت پرخلاف کرکه او مخالفتونه رامنځته شول ترڅو په شوروي کې د بريژنيف او يو شمير نورو رهبرانو له مړينې وروسته د نوي تفکر څېره ميخائيل ګرباچف د واک واګې په لاس کې واخيستې، ګرباچف د نوي تفکرپه رڼا کې د بيا رغونې او علانيت ترشعار لاندې د ژورو بدلونونو پلان تر لاس لاندې ونيوه او افغانانو ته هم موقع په لاس ورغله چې د هېواد لپاره پر نوي ليډر شيپ فکر وکړي، داسې ليډرشيپ چې وکولای شي له يوې خوا حاکم نظام له انزوا (ګوښوالي)راوباسي او بلخوا داسې سياست رامنځته کړي چې ټولو افغانانو او وسلوالو مخالفينو (مجاهدينو) ته د يوه ګډ سياست په توګه د منلو وړ وي او افغانان ددې سياست پر بنسټ په هېواد کې د جنګ جګړو پرځای سولې،ثبات او امن راوستو ته وهڅوي، نو پرهمدې بنسټ ډاکټر نجيب الله د ګوند او دولت د مشر په توګه پداسې شرايطو او حالاتو کې رامنځته شو چې هېواد په يوه ستر ناتارا‌و ناورين کې ډوب وو او نجيب الله ئې ديوه ستر تاريخي ازمايش سره مخ کړی وو . نجيب الله د يوه دراک،نوښتګر او خوځنده افغان سياستوال په توګه هېواد له رواني ملي غميزې څخه د راايستلو په موخه د ملي روغې جوړې او پخلاينې سياست چې په بشپړ ډول يې د افغانانو د هيلو ، ارمانونواو غوښتنو سره سمون درلود او د افغاني ټولنې پرواقعيتونو ولاړ وه نه يوازې د خپل ګوند او دولت د اوږد مهاله سياست په توګه بلکې د بيا رغونې په اوږده پړاو کې د ټولو افغاني ځواکونو د ګډ افغاني او ملي سياست په توګه رامنځته کړ، او دايې څرګنده کړه ،چې هېوادنۍ مسلې اوس هومره پيچلې شوې ،چې يوازې يوڅوک په يوازې توګه نشي کولای هغه حل کاندي او اصلاً دافغانستان دمسائيلو يو اړخيز حل په اوس کې واقيعت نه لري او ديوه ځانګړې ګوند دانحصاري حاکميت پرمفهوم يې دبطلان کرښه راويستله او دقدرت انحصار دجنګ جګړو اصلي سرچينه وپيژندل شوه او ديوه ګوندي دولت پرځای دټولو افغانانو دملي وفاق دحاکميت تامينول هدف وګرځېده. د همدې سياست پربنسټ او د افغانانود سر ښندنې په پايله کې شوروي پوځې ځواکونه د هېواد څخه وتلو ته اړ شول. د ۱۳۶۷المريز کال دسلواغې په ۲۲مه د شوروي د څلويښتمې پلې فرقې قوماندان او دشوروي وروستی پوځي جنرال ګروموف د حيراتانو له پله څخه د تيريدو پرمهال چې د څلويښتم تيري کوونکې پوځ بيرغ يې په ټيټ سر د ځان سره لېږداوه، د هغې ورځې د ماښام په رارسيدو سره نجيب الله دا ورځ د ملي نجات ( ملي ژغورنې) د ورځې په نامه ديوه ځانګړې فرمان د انفاذ وروسته ونوموله ،چې اوس افغانان هرکال دا ورځ د خاصو او ځانګړو مراسمو په تر سره کيدو سره لمانځي او په هېواد کې عمومي رخصتي ده. پدې کار سره د شورويانو قهر او غصه راوپاريده او د نجيب الله د واکمنۍ پرخلاف يې توطيې او دسيسې پيل کړې، د ملي روغې جوړې او پخلاينې سياست چې د ډېرو منډو ترړو وروسته دتطبيق وروستي پړاو ته رسيدلی وو، په پايله کې د يو شمېر جهادي تنظيمونو او د وطن په ګوند او د افغانستان د جمهوري دولت د وسلوال پوځ په مشر تابه کې ځينې بې مسؤليته او خاينې ډلګۍ او په ټوله کې د شمالي ټلوالې ترنامه لاندې چې روسانو او ايرانيانو په همدې منظور رامنځته کړې وه په قصدي او عمدي ډول د پرديو په اشاره ددې پلان د عملي کيدو مخه ونيوه. د ملي روغې جوړې پلان سبوتاژ او له ماتې سره مخامخ شو او يوځل

بیا یې د پردیو په لارښونه هېواد دیوې بلې کور سوځونکې او ورور وژونکې اوږدې جګړې په سیلاب کې ورګډ کړ ،چې تردې مهاله روانه ده په یایله کې هېواد ددولتي حاکمیت دتشې ( دقدرت خلا) په ډنډ کې ورګډ او دباتورو افغانانو ټاټوبی دنړیوالو اورپکو، ترهګرو او مافیایي ډلو په ځالې بدل شو کوم چې نجیب الله یې خبرداری ورکړی وو.

پر افغانستان باندې د شوروي پوځي یرغل پایلې زموږ د ګران هېواد افغانستان او هم پخپله د پخواني شوروي لپاره تباه کوونکې وې. ددې جګړې په پایله کې نږدې یونیم ملیون افغانان ووژل شول، په سلګونه زره نور معیوب او معلول شول ،د۵ ملیونو په شاوخوا کې افغانان دنړۍ ګوټ ګوټ ته په مهاجرت او کډې کولو اړشول او هېواد په بشپړه توګه په کنډواله بدل شو. د ډاکتر نجیب الله د واکمنۍ وروسته جهادي ګوندونو او تنظیمونو ترمنځ د واک پر سر جګړه کې چې د پردیو لخوا پرمخ وړل کیده، د هېواد ښارونه هم د خاورو سره خاورې شول، د رباني او مسعود په توره سقاوي او سیتمي دوره کې د سر زیان سربېره د هېواد نږدې ټوله مادي او معنوي شتمني چور او تالا شوه. کله چې لویدیزو هېوادونو او امریکا د مسعود او رباني واکمني د پخواني شوروي او د هغه ننني میراث خورې روسیې په چوپړ کې ولیده ،نو د طالبانو تحریک یې رامخته کړ.د طالبانو تحریک په لومړي سر کې وکولای شول، وسله راټوله او امنیت ټینګ کړي ، د کابل په نیولو سره د رباني معسود واک مات او د افغانستان د ویشلو شوروي پلان ناکام کړي ،خوپه طالبانو کې یو شمېر سخت دریځو کړیو یو لړ داسې چاروته لاس واچوه چې خلکو ته د زغملو وړنه وو. دوی د کابل د نیولوسره جوخت سمدلاسه د افغانستان پخوانی جمهور رئیس نجیب الله د ملګرو ملتونو د دیپلوماتیک مقر خوندیتوب په پام کې نه نیولوسره د محاکمې پرته د پردیو په اشاره لومړی هغه ووژه او وروسته ئې په دار وځړاوه.د بامیانو بتان دا د هېواد تاریخي او کلتوري میراث یې په بمونو والوزول او په دې توګه طالبان د لویدیز له کنتروله ووتل،نړیوالو ترهګرو د اسامه بن لادن په مشرۍ چې د مسعود او رباني په واکمنۍ کې په افغانستان کې مېشت وو او د افغانستان د تابعیت تذکرې یې اخیستې وې د ۲۰۰۱زیږدیز کال د سپتمبر په یوولسمه نیټه د نیویارک په ښار کې د نړیوال سوداګریز مرکز دوې غبرګې هسکې ماڼۍ ونړولې.طالبانو دامریکا متحده ایالاتونو او یا کوم دربیم هېواد ته د اسامه بن لادن د سپارولو څخه د میلمه توب تر پلمې ډډه وکړه او پدې ترتیب دامریکا متحده ایالاتود ملګروملتونو او نړیوالوپه ملاتړ د طالبانو واکمنۍ ته د پای ټکی کېښود اود طالبانو د بهرنیو چارو د پخواني وزیر وکیل احمد متوکل په خبره نه میلمه او نه کوربه پاتې شول. د شوروي د یرغل راتلونکې پایلې لا جوتې نه دي او دا لړۍ دوام لري دا لا نه ده ښکاره چې زموږ د هېواد راتلونکی به څه وي، د افغانانو پرسر به نور څه راځي ؟؟ اوس دا دی څه د پاسه لس کاله کیږي ،چې د ناټو او ایساف ځواکونه زموږ په هېواد کې دترهګرۍ پر خلاف مبارزه کې راښکېل دي او دا جګړه تردې مهاله په ډېر درز کې روانه ده خو لکه څنګه چې لیدل کیږي تردې دمه د دولت د وسلوالو مخالفینو پر خلاف د وسلوالې روانې جګړې کومې مثبتې پریکنده پایلې نه تر سترګو کیږي او هېوادکې دټوپک غږ دبل هرغږ په پرتله اوچت ترغوږو کیږي او موږ لاتراوسه دبحران دپای ته رسېدنې ترلومړني پړاوه چې هغه دجګړې غوځېدنه ده زیات واټن لرو او هېواد په یوه ژور سیاسي،اقتصادي او پوځي بحران او کړکیچ کې راښکېل دی. پردې سربېرهېواد د نشه یي توکو دتولید او قاچاق په مرکز بدل شوی،د قانون حاکمیت او واکمني له منځه تللې ،اداره او نظام د فساد په بدنامه پدیده کې ډوب دی.لکه د مخه مو چې وویل دا لا جوته نده چې پرهېواد باندې دپرله پسې یرغلونو او تیریو په

پایله کې به زموږ د هېواد او خلکو راتلونکی برخلیک څه وي؟ خو یوه خبره چې ټولو ته روښانه ده،داده ترڅو چې افغانان په رښتني او صادقانه ډول رامنځته شوي خپلمنځي سیاسي، سمتي، ژبنې،قومي او توکمیزې ستونزې او مخالفتونه له مخې ایسته نه کړي او یو بل ته تېرېدنه ونه لري او د ملي یووالي رامنځته کیدو اصل ته غاړه کېښږدي، ملي او هېوادنۍ ګټې دنورو ګټو په پرتله لوړې ونه بولي د راونې زړه بوګنونکې غمیزې پریکنده حل ناشونی بریښي، د جګړې عمر به نور هم زیات شي او هېواد به نه یواځې دا چې له اوسني ناوړه مسلط حالت څخه بریالی راونوځي بلکې ددې وېره شته چې هېواد مو د ویشل کیدو پر لور ګام پورته کړي چې بیا به یې مخه نیول څه اسانه کار نه وي. دا هغه څه دي چې زموږ د هېواد دښمنان یې غواړي پر افغنستان باندې د شوروي پوځي یرغل پایلې نه تنها د افغانانو لپاره بلکې پخپله د تیري کوونکي لپاره هم ډېرې درنې او ورته په لوړه بیه تمامې شوې. افغان جګړې د پخواني شوروي نړیوال پرستیژ تر پوښتنې لاندې راوست او هغه یې پرځمکه وواهه او د هغې استعماري نیتونه یې چې د سولې،دوستۍ،دیتانت د جذابو غلونکو شعارونو ترچتر لاندې پټ وو نړیوالو ته ښکاره کړل . سره جګړه په نړۍ کې د تیري کوونکي په ابدي ماتې پای ته ورسیده،نړیوال سوسیالستي سیستم رنګ او دړې وړې شو. شوروي امپراطوري ونړیده او د هغه په استعماري جغرافیایي ساحه کې پنځلس ازاد هېوادونه منځ ته راغلل. د وارسا پوځي غبنتلی تړون چې د شمالي اتلانتیک (ناټو)پرضد رامنځته شوی وو، مضمحل او له مخه ولاړ. د افغنستان جګړه د شوروي وروستۍ جګړه ده داله هغه وروستۍ ځان وژونکو ماینونو څخه یوه راوختله چې یو لوی دولت پرې والوت او دړې وړې شو. د ختیځې اروپا سوسیالستي هېوادونه د پخواني شوروي او د هغې میراث خورې روسیې د نفوذ د ساحې نه خلاص شول،د برلېن دیوال ونړید او یو واحدالمان د نړۍ په سیاسي نقشه کې رامنځته شو. پخوانۍ یوګوسلوایا وویشل شوه او هلته د روسي نفوذشتون نږدې پای ته ورسید. د پخواني شوروي ځیني جمهوریتونه داروپایي اتحاد غړي شول د شوروي اتحاد په پخوانیو جمهوریتونو کې د امریکا د متحده ایالاتونو او ناټو تړون پوځي اډې جوړې شوې، د شوروي نفوذ او اغېز نږدې په دریمه نړۍ کې هم پای ته ورسیده. پوتین وایي (( ترټولو د مخه باید ومنو چې د شوروي اتحاد رنګیدل د پېړۍ ترټولو ستر جیو سیاسي ناورین وو، د روسیې د خلکو لپاره دا یوه واقعي ډرامه شوه .)) پدې وروستیو کې افغان دولت دوسلوالو مخالفینو سره د روغې جوړې او پخلاینې خبرې ګرندۍ کړي او پدې اړه یو شمېر لیدنې کتنې د هېواد په د ننه او د هېواد څخه بهر تر سره شوي دي ،چې هیله ده دخبرو روان بهیر دوام ومومي او ښکېل اړخونه وکولای شي پریوه داسې میکانېزم جوړ جاړي ته ورسېږي چې په هېواد کې د روانو جنګ جګړو لمن ټوله او په هېواد کې د سولې او ثبات راوستو سره مرسته وکړي. زما نظر د یوه هېوادوال په توګه دادی چې د سولې روان بهیر باید یو بین الافغاني بهیر او د ټولو ښکېلو او ذیدخلو خواو په ګډون تر سره شي او پدې پروسه کې هېڅ یوه ډله مستثنئ او له پامه ونه غورځول شي. دویم- د سولې روانې خبرې باید د هېواد د ملي ګټو او علیا مصالحو پربنسټ ترسره شي نه د سیاسي بازیو او معاملو پربنسټ ، ځکه دا ډول حل نه دا چې د هېواد اوسني روان کړکیچ ته د پای ټکی نه شي ایښودلی، بلکې افغان کشاله د لا پیچلتیا پر لور بیایي اونوي ابعاد پسې خپلولی شي . زه پر افغان دولت ،سیاسي ګوندونو ،ځانګړو افغاني شخصیتونو ، وسلوالو مخالفینو ، روڼ اندو ،قومي مشرانو ،مدني ټولنوفعالینو ، علماؤ او روحانیونو باندې غږکوم چې ټولو ته ښایي د تېرو کلونو له ځانځانیو او انساني لویې تراژیدۍ څخه عبرت واخلي او د افغان یو موټی واحد ملت او کور د ژغورنې لپاره د متوازن او معقول سیاست په لارې اچونې سره خپل مسؤلیت سرته ورسوي. دبده مرغه

یو شمېر افغانان په تېرو څه د پاسه درې لسیزوکې دګاونډیو هېوادنو او افغانستان په مسائیلو کې د ښکېلو هېوادونو سره داسې تړل شوي دي ،چې د مستقل او متوازن سیاست خپلول ورته ګران دي او هر هغه څه چې د اړوندو هېوادونو له خوا ورته دیکتې اوویل کیږي هماغه د خپلو سیاسي هدفونو اوموخو په څیر طرحه کوي او د همد ې طرحې د تطبیق لپاره داسې سیاسي تبلیغات په لاره اچوي چې د افغانانو د یو موټي کور یعنې د افغانستان خپلواکي ،ځمکنۍ بشپړتیا ،ملي حاکمیت او ازادۍ ته زیان رسوي. ځینې بیا د پردیو په امر او دستور په کور کې کورګي جوړوي او د لړه کیو د حقونو تر نامه لاندې هماغه زاړه استعماري شعارونه ( بېل یې کړه اېل یې کړه) ته کار کوي او غواړي د افغان سکني ورونو میلیتونو ترمنځ د بیلتون کرښه راوباسي او د پردیو په اشاره یې د هېواد ویشلو ته ملاتړلي ده خودا په ګوتو شمار هېواد دښمنه کسان بایدپه دې وپوهیږي چې دوی به هغه څه ترلاسه نه کړي کوم چې خوبونه یېویني ، دوی به خپلې ناوړه هیلې او ارمانونه د ځان سره ګور ته یوسي. _